مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

گل جان صابر
۲۰۲۱/۱۲/۰۴

# کسب تر سرو زرو ښه دی

په یو وخت کې یو پاچا و. هغه به ډېر وخت له خپلو وزیرانو څخه په پټه د سوالګرو زاړه کالي اغوستل، په کلیو او ښارونو کي ګرځېده تر څو واوري چي خلک د ده په برخه کې څه وایي. پاچا یوه ورځ په یوه کلي کې یوه ډېره ښکلي نجلی ولیدله. نجلی دومره ښکلې وه چي هر چا به چي ولیدله ویل به یې: نه څه خورم او نه څه څښم خو چي یوازې هغې ته مي کتلی.
پاچا خپلي ماڼی ته راغی او خپلو وزیرانو ته یې وویل:
- په هغه پلاني کلي کې یوه ښکلې نجلی اوسېږي، ور شی او هغې ته وواياست چي پاچا غواړي ستا سره واده وکړي.
وزیران هغه کلي ته ورغلل، د نجلی کور یې پیدا کړ او دوی هم د هغې ښکلا ته حیران پاتي شول. هغوی د نجلی پلار او مور ته وویل چي پاچا ستاسو په لور زړه بایللی او غواړي له هغې سره واده وکړي. د نجلی پلار بېوزله بزګر و. د هغه باور نه راتلو چي پاچا دې د ده لور ته دومره ویاړ ور په برخه کړي. کله چي وزیرانو ده ته ډاډ ورکړ چي دا خبره رښتیا ده نو هغه وویل:
- موږ د پاچا نوکران یو، څه چي هغه وایي همغسي به کېږي.
بزګر خپلې لور ته ورغی او ور ته ویې ویل:
- لورجانې، پاچا خپل وزیران را لېږلي دي چي تا د ځان لپاره وغواړي. هغوی ته څه ځواب ورکړو؟
نجلی پوښتنه وکړه:
- د پاچا کوم کسب زده دی؟
- ته څه وایې، لورې، لکه چي عقل د له لاسه ورکړی؟ د پاچا به څه کسب زده وي؟ هغه د دې سیمې واکدار دی، څه یې چي زړه وغواړي همغسي کوي، موږ ټول د ده نوکران یو.
- نه، زما د خاوند باید یو کسب زده وي او که نه زه له هغه سره واده نه کوم.
وزیران بېرته راغلل او پاچا ته یې د نجلی ځواب و رسولو. پاچا حیران شو خو هېڅ یې نشوه کولی، پرېکړه یې وکړه چي د نجلی لپاره کوم کسب زده کړي. هغه د ځان لپاره ډېر آسانه کسب- د غالیو اوبدل، وټاکه.
پاچا چي د غالیو اوبدل زده کړل نو یوه ښکلې غالی یې و اوبدله او هغه یې نجلی ته د ډالی په ډول ور ولېږله.
د نجلی غالی خوښه شوه، له مور او پلار سره یې مخه ښه وکړه او له وزیرانو سره د پاچا ماڼی ته ولاړه.
پاچا اووه ورځې او اووه شپې د واده جشن جوړ کړ، دوی دواړو واده سره وکړ او په خوښی او خوشالي یې یو ځای ژوند پیل کړ.
یو، دوه کالونه تېر شول، پاچا بیا هم د سوالګرو کالي اغوستل، په کلیو او ښارونو ګرځېده تر څو پوه شي چي خلک د ده په برخه کې څه وایي.
پاچا یو ځل د همداسي ګرځېدو په وخت کې د غلو په لاس ورغی. غله چي د پاچا له کسب څخه خبر شول هغه یې و نه واژه او په یوه شتمن سوداګر یې وپلورلو. سوداګر پاچا په یوه تیاره کوټه کې بند کړ، ورته یې ورکړي چي له هغو څخه غالی و اوبي. پاچا دومره ښکلې غالی و اوبدله چي جوړه یې هېچېرې هم نه وه.
د سوداګر مېرمنې چي دا غالی ولیدله نو خپل مېړه ته یې وویل:
- هغه دې یوه لویه غالی و اوبي. ته به غالی پاچا ته ډالی کړې، پاچا تا تش لاس نه رالېږي.
سوداګر تیاره کوټې ته ورغی او اوبدونکي ته یې وویل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- زه غواړم چي پاچا ته ډالی ورکړم. ته يوه غالی و اوبه خو ګوره، غالی بايد دومره ښکلي وي چي جوړه يې په ټوله نړۍ کې پيدا نه شي. دا غالی د پاچا سالون ته و اوبه خو داسي چي له سالون څخه يو وينته لويه او کوچنی نه وي. که چيري زما شرطونه په ځای نه کړې نو خپل سر به و بايلي.
پاچا چي دا واورېدل ډېر خوشاله شو، د خپل سالون اوږدوالی او سور خو ده ته ښيله هغي هم ښه مالوم وو. هغه همغسي غالی و اوبدله لکه څرنګه چي سوداګر غوښته. د غالی په يوه کونج کې يې ټکي( چي يوازې ملکي لوستلی شوای) و اوبدل او په هغو کې يې وليکل چي دی له بدمرغی سره مخ شوی او غواړي چي ويې ژغوري.
سوداګر د اوبدونکي له کار څخه خوښ شو او غالی يې د پاچا مانی ته يو وړله. وزيرانو ملکه د راوړې ډالی څخه خبره کړه. ملکي غالی و غوړوله او و يې ليدل چي له سالون څخه يو وېښته لويه او وړه نه ده. هغه ښېخي حيرانه شوه، ټوله غالی يې وکتله او په يوه کونج کې يې ټکي وليدل. هغي چي کله ټکي ولوستل نو پوه شوه چي مېړه ته يې څه ور پېښ شوي دي. د ملکي رنګ زير شو. پاچا پخوا په اونيو، مياشتو او کلونو په خپل ملک کې ګرزېده، د ملکي په فکر کې هم دا نه راتلل چي هغه به د داسي بد مرغي سره مخامخ کېږي.
ملکي امر وکړ چي سمدستي هغه څوک چي دا غالی يې اوبدلې پاچايي مانۍ ته جوړ او روغ راولي.
وزيران له سوداګر سره د هغه کور ته ولاړل، تياره کوټې ته ور ننوتل خو پاچا دومره بدل شوی و چي وزيرانو و نه پيژندلو.
اوبدونکی يې په حمام کې ولمبولو، نوي کالي يې ور واغوستل او پاچايي مانۍ ته يې را روان کړ. سوداګر هغه ته ور وښوول چي په مانۍ کې بايد څرنګه کړه وکړي، څرنګه ودرېږي او ځان ټيټ کړي.
پاچا چي کله مانۍ ته ور ننوت ملکه په منډه ورغله لاسونه يې ترې چاپېر او دواړو يو او بل سره ښکل کړل. پاچا وويل:
- مېرمني رښتيا ويلي و چي: کسب تر سرو زرو ښه دی.

د ارمنستان د خلکو کيسه
ژباړونکی: ګل جان صابر


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ